هېڅ مسلمان ته ستوماني او رنځ، هېڅ غم او خفګان، هېڅ ضرر او غم نه رسيږي آن تر دې چې يو اغزی چې کله يې په پښه کې لاړ شي، مګر دا چې الله جل جلاله به يې ورته د ځينې ګناهونو کفاره وګرځوي

ابو سعيد الخدری او ابوهريرة رضي الله عنهما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايتوي چې فرمايلي يې دي: «هېڅ مسلمان ته ستوماني او رنځ، هېڅ غم او خفګان، هېڅ ضرر او غم نه رسيږي آن تر دې چې يو اغزی چې کله يې په پښه کې لاړ شي، مګر دا چې الله جل جلاله به يې ورته د ځينې ګناهونو کفاره وګرځوي».
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې مسلمان ته چې کومې ناروغۍ، غمونه، خفګانونه، کړاوونه، مصيبتونه، سختۍ، وېره او لوړه رسيږي، تر دې چې که يو اغزی يې په پښو کې لاړ شي او ويې دردوي، نو دا ټول به يې د ګناهونو لپاره کفاره شي او ګناهونه به ترې توې شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3701